© rasailojaraid.com



دَ کال ۱۹۵۱ء دَ دارالعلوم حقانیہ اکوړه خټک په سالانہ اجتماع کښې

# یادګاری مُشاعَره

دَ شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحبؒ دَ لاسه قایم کړی شوی علمی مرکز دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک کښې دَ سالانه اجتماعات په موقعه به علمی تقریرونو سره سره ادبی مشاعرے هم کېدے۔ دَ قومی شاعرانو او ادیبانو په نظر کښې دَ حضرت شیخ الحدیثؒ او دَ دارالعلوم حقانیه څهٔ مقام وو، او دَ دوی نه ئے څهٔ قسم متوقعات او امیدونه لرل؟ په دے لړکښې صرف دَ کال ۱۹۵۰ء دَ سالانه اجتماع په موقع منعقد شوی پښتو مشاعرے مختصره شان خاکه دَ لوستونکو په وړاندې پېش کوو۔ (اداره)

دا یادګاری مشاعره ماښام شروع شوی وه او دَ شپې لږ تر لسو بجو پورے جاری وه۔ دَ دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک دَ سالانه اجتماع په موقع داعلی ذرګونو مشائخینو دَ بلند پایه نامتو شاعرانو ادیبانو دَ کلام بوعت نظام نه خوند واخست۔ د دے مشاعرے دَ [صدارت] فرائض بابا ئے پښتو ښناغلی عبدالخالق خلیق پوره کړل۔ مشاعره طرحی وه۔ طرح ئے دا وه:۔

ع را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

په دے مشاعره کښې چه کومو شعراؤ برخه واخسته دَ هغوی نومونه او دَ کلام نمونه لاندینی کرښو کښې اولولئ:۔

## (۱) خانِ اعلیٰ خان محمّد زمان خان صاحب۔ اکوړه خټک

را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
فضا دَ اکوړې رڼه کړه له علمه منوّره
راشه په مطلع دَ اکوړې هُم نمودار شه
اے دَ قرطبے او دَ بغداد عالی اختره
ته که دَ علومو طلب کارئے راشه راشه
دلته حقانی دارالعلوم دے خوش منظره
داده دَ علمی کوثر چشمه تشنه لبانو
ساقی ئے عبدالحق شیخ دَحدیث دے برادره
ډېر دَ دهٔ دَ لاسه فاضلان اکوړوی شو
دا یو سه ساله طفل دے بهتر تر معمّره
خدایه دا علمی درسګاه ثانی اشبیلیه کړے
ده دَ روز افزونه ترقی په لحاظ عمّره

درس که دَ جوامع الکلم عجیب اعجاز دے
هر نقطه ئے دَجمله دَ معانی ده مشتره
زر به صلاح ورکړو دَ مغرب مستشرقینو ته
مشرق هم کړو پیدا دارالعلوم عرفان پروره
شمع دَ علومو شوه روښنانه ستا دَ پاره
ته پرے دَ پتنګ په شان شه تېر له مال و سره
مال خو هغه مال دے چه په خدائے رسول قربان شی
دین په کار ئے صرف کړه جنت واخله له داوره
تاسو ته فاضلو، الوداع په حسرت وائي
اهل دَ دے کلی، له فراقه دے مضطره
اے دَ هدایت او دَ ارشاد خداوندانو
تاسو عالمانو ته مو فرش دَ راح بصره
اهل دَ قریې ته دَ قصبے عُلماء وایه
دی په منزله دَ روحانی صادر پدره
عرض دے مرحبا او هر کلے عزیز مهمانو
ستاسو په خدمت کښې له جانب دَ سخنوره

## (۲) سیّد غلام علی شاه صاحب مظهر

وخت وو جهالت چه په لمحو په تنزّل کښې وو
نور وو، نور دَ نور په پلوشو دَ کفر شره
پرېږدئے دَ شغلو چه رڼه صبا له دے سحرنه کا
حق دَ او ښکو جارے دَ دشمن له هر بصره

© rasailojaraid.com

© rasailojaraid.com



ورشه اے نسیمه کُل عالم ته دا خبر کړه
خپرې غلغلې دَ علمِ دین دَ سمندر ره
اوس چه را تو ئیږی را تو ئیږی راوریږی دِ
تل رحمت نایابه په شپبو کوزه له بره
دا دَ دین چمن چه سر دوباره ئے سیراب کړو
خدایه له شیخ الحدیث لوئے له مال وسره
خدایه دِ دَ ئے مشعل لری روښانه دا دَ علم
وی دِ مستجابه دُعاګانے له مظهره

(۳) عجیب الرحمٰن صاحب کسکر

خپرژه نور اوچت شه دَ شفق نه خندُ نه دروُمه
څه ګرزه طالبه په خندا دِ مَشتَته دروُمه
تبنته بر فلک ته څه رشتیا له عرخنه درومه
قطعه دَ تنزیل رسیِ کا لبس څه هم په بره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

مولانا عبد الله صاحب دَ نوښار

(۴) ژوندی دِ آشنائے شه دَ سرور په برکت
سیف دِ حزائے شه دَ اکبرؓ په برکت
بتول زړونه دِ خائے شه دَ عمرؓ په برکت
حوزے دِ ترائے شه دَ حیدرؓ په برکت
مضبوط دِ مدارج اوسه له سَدِّ سکندره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
فاتح اوسه تهذیب دَ صلیب اوُهه ممدوح شه
الحاد به حیدری نعرو خیبر کا چه مفتوح شه
معلول دَ محرِک شه رنګ شه یا په رنګ کښے روح شه
عملِ دَ خان سره کړه دَ کشتئ دَ جسم نوُح شه
راهب د سیاست په ړانګه وولهٔ دَ منبره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
اے ملمه په عمل کښے ماسانو ته رنګ ورکا
په دغه رنګ کښے رنګ شه طالبانو ته رنګ ورکا
رنګونه تر نور لرے کا خانانو ته رنګ ورکا
بے رنګه دی رنګ راوړه شاعرانو ته رنګ ورکا
دَ دے نوی عنوجل دَ سیاستانو له سخونُدره
خان بچ کړه عبد الله چرے قربان نه شے د منکره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

(۵) عبد الرحیم ندا صاحب سرحدی

یو هسے انقلاب په کائناتو کښے پیدا کړه
چه شی واړه ذرّے دَ دغے رازه باخبره
ګبل او ښکوکوه چمنستان کښے دَ احساس
ور تبره هره زبله ئے کړه پورے له ځیګره
شبنم دَ ګلے مینے پرِ هر خائے دَ کوهر کړه
په تپ دَ ګلے مینے ئے بوزه له عرشه بره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

(۶) محمّد نواز خان خټک صاحب (رشیدو)

رحمت په دے کسانو حقّانی درس ئے جاری کړو
همت ئے رب نصیب کا ربّانی درس ئے جاری کړو
چه بنائی احادیث او قرآنی درس ئے جاری کړو
شی پیچ به ضلالت نه روحانی درس ئے جاری کړو
خټکه اوس به نه کیږی کیلے له مقدره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

(۷) محمّد نیاض صاحب فیاض شیدو

وی تل په اکوړی کښے دِ دارالعلوم آباد
بزرګ شیخ الحدیث صاحب ئے ایښے دے بنیاد
ګلزار ئے اکوړے کړو پرِ رامه شه دغم باد
خوشحاله دِ مدام وی چه دا رنګ ئے کړو ایجاد
خالق ئے درجه کړه له دے زیاته مقرّره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

(۸) نوُر محمد اُستاد (نوښار)

چه پر و بال ئے نه وی څنګ به اوخیژی په بره
پرواز کله کیدے شی په هوا کښے بے وَزره
غوږونه د عبرت اوښایه ماته دَ زړهٔ سره
خبر خو به خبر وی خبروومه بے خبره
سنګار دَ ناوی چرے شوے نه دے بے زیوره
تیارهٔ وه دو مره ډیره چه زما تر اوسه ویره
را اوخپرژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

(۹) شان ګل اُستاد (زیارت کاکا صاحب)

© rasailojaraid.com

© rasailojaraid.com

باران دَ خیر او فیض وو پہ دُنیا او وریدلو
پہ قدر استعداد پرِ ټول زمین او تو کیدلو
د سرای پہ مزکے کوره زرغونہ او شوه دَ ګلو
خوشبوئی ئے کل جهان کړلو تر مُشک و تر عنبره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره
الله دَ اکوړی دار العلوم لکه دیو بند کړے
علوم پتر نہ هواره تر بخارا او سمرقند کړے
نشان کل کوی دُعا چہ فیض ئے برچا سر لند کړے
دا نوی باغیچه مو لہ خزان کړے بے خطره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

## (۱۰) عبدالوهاب شبنم صاحب (جهانګیره)

دَ علم پہ زیور کښے آراسته ښکلی دلبره
راځه پہ روښتندی باندِ بیا او خانہ دَ سره
دَ نورو تیرو شپو تہ دَ جهل ورکړه تکره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

## (۱۱) ملک شیر علی خان صاحب دَ خوښکو

دے باغ لہ مالیاران ښکلی پکار دی دَ وطن
پہ شوق چہ طالبان پہ دے درسګاه کښے کړی لوستن
تازه چہ تل تر تله وی زمونږ د غه ګلشن
خوشبوئی بہ وطن ټول دے شی دَ شجر ثمره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب د علم ثمره!

## (۱۲) قاضی عبدالودود اسیر صاحب دَ اکوړی

عزت دَ بنیادم وی پہ هنر علم و ادب
هیڅ شے نہ دے اسلام کښے دَ دُنیا مال و نسب
واقف لہ دغے رازه عالمان دی دَ مذهب
محتاج دِ عالم ځکہ رهبری تہ دے رهبره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

## (۱۳) محمد معشوق صاحب باجوړی

اظهار دَ جبروت او دَ لاهوت زمونږ پہ ځان
الله او کړو احسان پہ دغه خوشی بیا بان
شو جوړ پہ اکوړی کښے کور دَ علم منوّره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

## (۱۴) تکریم الحق صاحب روغ لبو نے. کاکا صاحب

دے دا دار العلوم زمونږ دَ ژوندیو نښانه
ده بیا زمونږ پہ لاس کښے دَ حق پټه خزانه
دے ډیر نا کاره وخت او ډیره سخته زمانه
توفیق را کړے اے خدایه چہ داینک کار کړو تر سره
دَ ستا پہ رڼا ئی کښے دَ مذهب د علم ثمره

## (۱۵) فقیر حسین صاحب فقیر پسر حاجی غلام حسین صاحب پوشماسر

همیش نوی مطلع وی ستا پہ هره زمانہ کښے
شافعیؒ بو حنیفہؒ غوندِ ساقیان وی میخانہ کښے
یو شانے سرایت کړی فرزانه او دیوانہ کښے
دَ حق دار العلوم قربان دے ستا پہ آستانہ کښے
ډیوے نوی بلے پہ دے زړه سیاه خانہ کښے
او رنګ دَ حقیقت ځکوی ستا پہ افسانہ کښے
تیاره ذړونه روښانہ کړه سینے کړه منوّره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

## ۱۶ عبدالجبار صاحب مضطرؔ - د اکوړی

دنیا او آخرت دی سره دواړه لرے لرے
دُنیا خوشی مبره ده دَ غوئ پشانے خرے
سنہ ځنی تہ نظر نہ کړے ناقص بوتی پکښے لغرے
لو بنه دَ عمل جوړه کړه پریږده لوزے خبرے
الله نہ عفوه غواړه پہ هر وخت کښے اے مضطره
محرومه لا ځوک نہ دے دَ هغہ لہ پاکه دَره

## ۱۷ سراج الاسلام سراجؔ. اکوړه خټک

دے روک مسلم تہ او سبایہ روک شوی نښانو نہ
پہ وړاندِ ورتہ کیده بیا تیر شوی مثالونہ
د علم ثمره لرے کړه لہ مخہ حجابونہ
لږ اوچ کړه دَ سراجؔ دَ لړمو او ښکو سیلابونہ
بنادی پہ راختو دِ کمه نہ ده لہ آختره
را او خیژه پہ بیرته دَ مذهب دَ علم ثمره

© rasailojaraid.com

© rasailojaraid.com

## ۱۸ — سید انور علی شاہ بخاری

را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمر ه
خونے دِ کړه مشغلے کړه دا دُنیا بیا منوره
را اوخېژه په بیرته کړه روښنان وارته جهان
کړه ملک په خوریدو سره په مونږه نورستان
مونږ شه په پاکستان کښے په مونږ فضل لاکبره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمر ه

## ۱۹ — عطا محمد صاحب تیلی

الله دِ سرفراز کا دَ رسول په برکت
دنړا دِ شه خوره په هر طرف دَ صداقت
نصیب دِ شه دُنیا کښے لوئے حرمت او جلالت
عطا شه محمد تیلی ته بنکلے بلاغت
انصاف کړوی دَ حق چرے په تا کښے زورآوره
تیلی درته نکتے دَ بلاغت الیښی شاعره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## ۲۰ — میاں حسین شاہ صاحب

مشرق نه تر مغربه ظلمت د کفر زور دے
بیداره عالمان کړه دَ دنیا قونو نن پېغور دے
دے کار ته دَ تبلیغ ولے دنیا پسے ئے سوړ دے
دولت ته ئے هوس دے ویره نه کړی له سقره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ عِلم نمره

## ۲۱ — ھدایت احمد شاہ فیاض

معدن دَ ملغرو دِ عرفان دِ اکوړے وی
تل بریښی نور د علم چه خورېږی لرے دره
چاپیره آوازونه درودونه او نغرے دی
خندا ده خوشحالی ده په چمن له نوی سره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

## ۲۲ — محمد شریف متعلم

ته هم دارالعلوم حقانی کښے شوے داخل
هر علم هر یو فن هر یو تهذیب دِ کړو حاصل
اوس دا دستاربندی دِ مبارک شه برادره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره
دعا محمد شریف کړی چه دا ځائے دِ شی دیوبند
زمونږ شیخ الحدیث ته خدا یه ورکړے اوږد ژوند
خورېږی دِ دنیا کښے فضلاء له پیښبوره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ عِلم نمره

## ۲۳ — سید نواز صاحب فاضل حقانیه

لرے دَ مسلم نه شپے دَ جهل کا را اوخېژه
جوړ دَ اکوړی نه بخارا کړه بختوره
دا دارالعلوم دارالا نوار کړے لویه خدایه
پورته پلوشے ئے کړه دَ جامع ازهره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ عِلم نمره

## ۲۴ — حافظ محسن شاہ صاحب

را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ عِلم نمره
خدائے ئے موصوف کړے په قرآن کښے ئے ته نوره
اسلام دَ دغے نوم دے چه حاصل کړو تا په زوره
عمل که دِ پر او کړو بیئے هر ځائے به بهره وره
را اوخېژه په بیرته دَ مذهب دَ علم نمره

---

د دغو شعراؤ نه علاوه قاضی عبدالسلام صاحب رستم خان صاحب۔ محمد اجمل خان اجمل صاحب او سمندر خان سمندر صاحب او نورو کنړو درنو ستو په دغه مشاعره کښے ګډون اوکړو۔ او ډېره په کامیابئ سره دا غونډه سرته اورسېده۔

© rasailojaraid.com